# عبدالقادر خان خټک او تصوف

- د عبدالقادر خان خټک د ژوند او ادبي اثارو په اړه لنډ معلومات:
- د خوشحال خان خټک دويم زوی دی چي په ۱۰۶۳ هجري / ۱۶۵۳ عيسوي کښي زيږيدلی دی.
- لومړنۍ زده کړه يې په خپل کور کښي تر سره کړې ده.
- د عبدالقادر خان له ديوان څخه داسي ښکاري چي په هندي، عربي او پارسي ژبو ښه پوهيده، ځکه چي په خپلو اشعارو کښي د عربي او پارسي له کلماتو څخه ډېر کار اخيستی دی.
- عبدالقادر خان خټک د شاعري سره سره د ليکوالي او ژباړو صلاحيت هم لرلي، او ډيري ژباړي يې کړي دي.

# دعبدالقادر خان خټک اثار

- ګلدسته: دا د شیخ سعدي د ګلستان پښتو ژباړه ده، دا ژباړه په ۱۱۲۶ هجري کال کې پای ته رسیدلې ده، ګلدسته په ۱۹۶۱ کښي په پیښور کې چاپ شوه.
- یوسف زلیخا: دا کتاب د جامی له فارسي مثنوي څخه، چې هغه هم د عربي څخه په نظم اړولی او بیا په پښتو خفیف بحر ترجمه شوی او د اورنګ زیب په وخت کي په ۱۱۱۲ هجري کال کښي نظم شوی دی.
- حدیقه خټک: داکتاب په ۱۱۱۰ کي په نظم لیکل شوی دی، دا په مثنوي ډول لیکل شوی دی.
- دیوان: د عبدالقادر خان خټک په دیوان کښي ۲۶۹ غزلي، ۲۳۳ څلوریزي راغلي دي.
- د بردي قصدې ژباړه
- نصیحت نامه
- څلویښت حدیثونه

# عبدالقادر خان خټک او تصوف

- د عبدالقادر خان خټک په شاعري کښي د تصوف رنګ ډېر ښکاره دی.
- عبدالقادر په تصوف کښي د حضرت سید ادم بنوري رحمه الله مشهور خلیفه او د لاهور د شیخ سعدي بخاري نقشبندي مرید وو.
- ځکه وه ده خلیفه صاحب هم وئیل کیده.
- د عبدالقادر خټک له تصوفي اشعارو څخه ښکاري چي په تصوف کښي د وحدت الوجود نظریې ملګری دی.

# عبدالقادر خان خټک او شاعري

د عبدالقادر خان خټک یوه غزل راوړو، چې د ده ده هنري ښایست یوه نمونه ده.

که ښېرې کا، که ښکنځلې هر چه وائي
هیڅ مه وایه ښایسته دي باندي ښایي
خلقي یې انتظار دي و دیدن ته
ګوره مخ به دلبر کوم یوه ته نمایي
هر مارغه د دې چمن پخپله ژبه
ستا ثنا کا، ستا صفت کاندي، تا ستایي
په دنیا به مینه څه عبدالقادر کا
چې اخر یې خواه ناخواه ورځنې بیایي

# عبدالقادر خان خټک او تصوف

- د عبدالقادر خټک د تصوف په اړه بهرام زخمي داسي نظر لري:
- ښاغلی خټک په تصوف کښي د وحدت الوجود نظریې قائل دی.
- هغه وائي چي د اهل نظر په کتلو په انداز کښي فرق دی چي ورته کائنات ځان له څیز ښکاري او د خدای پاک وجود ورته ځان له څیز ښکاري
- او د خدا ے پاک وجود ورته ځان له څیز ښکاري- د ښاغلي خټک په خیال داسې نه ده- هغه کائنات د وجد حقیقي جلوه ګڼي-
- هغه وائي چي جزو یعني کائنات د کل یعني د ذات باري تعالي نه جدا څیز نهٔ دے او ځکه نهٔ دے چي که مونږ کائنات ته ځان له مقام ورکړو او خدا ے پاک ذات ځان له اوګڼو نو د الله پاک ذات به محدود پاتې شي او هغه محدود نهٔ شي کېدے

# عبدالقادر خان خټک او تصوف

- بلکې هغه د کائنات په هر څیز باندې محیط دے-
- په قران پاک کښې په آیات الکرسي کښې د دې خیال وضاحت ډېر په خوندوره طریقه شوی دی، او عبدالقادر خټک د دې خیال اظهار څه په دې تورو کښې کړئ دی!

د لیدونکو په نظر کښې تفاوت دے
او که نه وي جز جدا نه دے له کُله"

# عبدالقادر خان خټک او تصوف

- ابوالحسن نوري وائي:
- چې تصوف هغه طاقت او قوت دی، چې د دې له لاري انسان د نفس ټول لذتونه پرېږدي (ترک کړي)-
- د تصوف په برکت د انسان ټول باطني نفرتونه، حسدونه او ګندګۍ پاکېږي او د مینې محبت، رضا، صبر، سخاوت او فقر صلاحیتونه د تصوف په برکت ځلا مومي-
- د تصوف د مرحلو نه یا پړاونو څخه د تېرېدو پس د انسان اخلاق اعلی درجې ته رسیږي-
- د انسانیت د معراج په لور روان وي.

# عبدالقادرخان خټک او تصوف

- د عبدالقادرخان خټک په شاعرۍ کښې د تصوف په حقله ډاکټر پرویز مهجور خویشګي لیکي:
- "صوفیانه شاعري په عمومي توګه د موضوع په حواله د دوؤ غټو توکونه نه ترکیب مومي-
- یو عشق مجازي او محبت چې په صوفیانه اصطلاح کښې ورته حقیقي عشق وئې او دوېم توک یې اخلاق دی-
- ترکومه حده چې د عشق او محبت خبره ده نو د عبدالقادرخان خټک په صوفیانه شاعرۍ کښې د دې رنګ پوره غلبه ده-
- د دوی په شاعرۍ کښې عشق او محبت په پوره صوفیانه شان او لوړوالي په نظري او قلبي دواړو حېثیتونو کښې موجود دے-

# عبدالقادر خان خټک او تصوف

- د پښتو په کلاسیک شاعرۍ کښې د عشق او جمال په حواله دوی چې څۀ وئیلي دي او په کوم فلسفیانه، عارفانه او شاعرانه انداز کښې ئې وئیلي دي، دا ټول د دوی د یو ځانګړي شان او مقام په ټاکلو کښې لوے لاس لري -

- د عبدلقادرخان خټک د تصوف په لړ کښې ډاکټر راج ولي شاه خټک لیکي:
- د تصوف په حقله د عبدالقادرخان خټک خیالات ډېر دقیق نۀ دي-
- ژبه ئې صفا و صوفیانه خیالات ئې په ډېرې بې تکلفۍ، راونۍ او سادګۍ سره بیان کړي دي او د تخیل قوت ئې هم د ستائینې وړ دے-

# عبدالقادر خان خټک او تصوف

- د تصوف په حقله هر هغه مضمون چې د دهٔ ښخه وړاندې د شعر په انداز کښې بیان شوی دی، عبدالقادخان خټک په یو داسې طرز بیان کړئ دی چې خالص نوی معلومېږي-

- لکه د مثال په توګه دا یو څو شعرونه به ئې اوګورو:

دلبر مخ راته ښائي په هر آئین کښې
ګاه په زلفو کښې ځاے اوکه زړهٔ راکاږي

# عبدالقادر خان خټک او تصوف

۱ – په هر څۀ کښې ګوره یار عبدالقادره
که په تور کښې جلوه ګر شي که په سپین کښې

۲ – ګاه په سترګو په رخسار او په جبین کښې
د صغان په دود ئې وران کاندي په دین کښې

۳ – بلبلانو ته ښکاره شي په نسرین کښې
که دې نشته شک ګومان په خپل یقین کښې

# عبدالقادر خان خټک او تصوف

- راج ولي يې دا شعر د شهودي نظريې د پاره راوړی دی

(شهود)

په هر څه کښې ننداره د هغه مخ کړم
ځکه نور عالم غمونه کا زه سخ کړم

(وحدت)

د وحدت درياب به وينې کښته پورته
خپل وجود به ورښکاره لکه حباب شي
د ليدونيو په نظر کښې تفاوت وي
او که نوي جزجدا نه دی له کله
خفی شرک لکه جلی ورته ښکارېږي
عارفان کله نظر په جز په کل کا